دَ ماشومانو دَ پاره لیکلې شوې منظوم کتاب

# پانه دَ پښتو

لیکوال

مولانا احمدعلی مردانی

ناشر

اسلامی ادبی ټولنه

یونیورسټی روډ مردان

03129818511

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمٰن الرحیم

## وصلی الله تعالیٰ علی النبی الامّی

## حمد باری تعالیٰ

رزق، زما مولیٰ دے چې هرچا له ورکوی
عوام له ورکوی، رزق باچا له ورکوی

صفت ئې دے رزاق په دې صفت سره یادیږی
اعلا له ورکوی رزق، ادنیٰ له ورکوی

دښمن له ورکوی، هریو منکر له ورکوی
رنډو له ورکوی رزق بینا له ورکوی

څنګل کښې ذ هرچا روزی رسان دے هغه یوَ
ذ رزق په طلب کښې مبتلا له ورکوی

ظالم له ورکوی، هغه مظلوم له ورکوی
منونکی له دُنیا کښې، بې وفا له ورکوی

بیشمره مخلوقات دی ذ هغه په آمریائی
احمده! هغه رزق دې دُنیا له ورکوی

..................................

...................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کامله په صفات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
حُسن دَ کائنات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ

په دي زما ایمان دے هر بشر دے خبردار شي
په دي زما ایمان دے لر او بر دے خبردار شي
ښه پاك پوره په ذات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
حُسن دَ کائنات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ

ګواه دغه قرآن دے حق قرآن ته رانږدي شه
ښکاره هر یو بیان دے حق بیان ته رانږدي شه
باعث دَ برکات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
حُسن دَ کائنات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ

هادي دَ مخلوقاتو، اولین او آخرین دے
کردار سره حسین دے په ګفتار سره شیرین دے
صاحب دَ کمالات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ
حُسن دَ کائنات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ

دَ صدق په صفت سره ممتاز دے له ازله
ممتاز په امانت دے له آغاز نه له اوله
صاحب دَ برکات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ

حُسن دَ کائنات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ

خاتم په مرسلانو کښي گواه اُوسه احمده!

خاتم ټولو نبیانو کښي گواه اُوسه احمده!

عظیم په ښه عادات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ

حُسن دَ کائنات دے محمد رسول اللّٰه ﷺ

..................................

## دولس رنګونه

ټول په شمیر دولس رنګونه

هیر ئي نکړے چي نومونه

دَ هر رنګ دے خپل صفت

خپل صورت ، خصوصیت

سپین (1) دَ پیو ښکلي رنګ دے

ورسره مدام په څنګ دے

تور (2) دَ سپین دے متضاد

دا دے ټل وی تاته یاد

شین (3) خادر رنګ دَ چمن دے

شنه ده پانه سپرلي نن دے

رنګ اُودی (4) دَ پاس اسمان وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیکه، ډوب په هر مکان وی
زیري (5) پاڼي په خزان دی
پوخ امونه د جهان دی
سُور (6) مدام رنګ د انار وی
طاقتور وی، مزیدار وی
نارنجی (7) د نارنج رنګ دے
تل نارنج سره په څنګ دے
خړ (8) رنګ بل په کښي د شمیر دے
ولي ستانه اَلو هیر دے؟
دی وریځي سپیني خړي
څهٔ دی توري ویني خړي
نسواری (9) رنګ په جهان شته
ـښهٔ ډوب سُور په هر مکان شته
ګلاپی (10) رنګ د ګلاپ وی
حقیقت کهٔ یا څه چاپ وی
جامنی، باتینګړی (11) دے
د جامن رنګ قدرتی دے
فیروزی (12) رنګ بدل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هريو خيز لره رنګ خپل دے
کله کله ډوب پيکه وی
ډيرئي حُسن وی مزه وی
په دي ښکلي تول جهان دے
دَاحمد کلي مکان دے

..................................

## اُودی څادر

دَاسمان اُودی څادر
عاليشان اُودی څادر
په تيارهٔ کښي کله ښکاری
دَ جهان اُودی څادر
بره ښور زمونږ دَ پاسه
ښکلي ګران اُودي څادر
قدرتی ئي حُسن ډير
قدردان اُودي څادر
دَ سرسيوري زمونږ چت
کرم حيران اودی څادر
دا بي عيبه، بيش قيمته

دَ امان اُودي څادر

دي احمده! بل دَ چا ؟

دَ رحمان اُودي څادر

...................................

## رنګونه دَ مارغانو

تور کارغهٔ دے شین طوطی دے

هریو ښکلي قدرتی دے

سپینه، خړه دا مارغي ده

دا زمونږه ګاونډي ده

خړه ، خړه دا تنزره

پټه ، پټه له نظره

ده کونتره سپینه ښکلي

مونږه دا کور کښې ساتلي

تپس لانډي بره باز

خپل انداز ئي ، خپل آواز

تورانې ، په وجود توره

څومره ښکلي دغه نوره

مرغي شته مُلا چرچك

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوی جاله په تېك

هم کوړے شته ډېنګان

د دُنیا دی دا مارغان

دا مارغان دی رنګ په رنګ

ټول اُوسیږی ښنګ په ښنګ

دا چې هرڅه دلته دا دی

پیدا کړی یو اللّٰه دی

دَ انسان فائدې دَ پاره

دَ انسان ټول تابعداره

ستا خدمت کوی احمده

ستا خبره نه ده بده

هغه رب کړه خپل خوشحاله

چې ئې دا کړل پیدا تاله

....................................

## غنم

خراب نۀ دی، ښه ټول سم دی

دا زمونږ هغه غنم دی

دا روټې دَ کلی ښارشی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسکټ دي نه هم تيار شي
ښه پاسته ، نرم نرم دی
دا زمونږ هغه غنم دی

هم په دي کښي وټامن شته
شکر دے چې دلته نن شته
په عرب شته ، په عجم دی
دا زمونږ هغه غنم دی

کۀ حلوا دٔ ناشتې وی
دٔ غنم اثر په کښي وی
ناخبره خلق کم دی
دا زمونږ هغه غنم دی

ميل ، مشين کښي وره کيږي
په بورو کښي بيا بنديږي
په تازه وخت کښي ګرم دی
دا زمونږ هغه غنم دی

ضرورت زمونږ دٔ ټولو
دٔ ورو ، لويو ، همځولو
دٔ حلوا لائق دٔ چم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زمــونږ هــغــه غــنــم دی

دَ احــمــد خــوراك مــدام دے

دا خــوراك دَ خــاص او عــام دے

ډیــر خیــزونــه دَ عــالَــم دی

دا زمــونږ هــغــه غــنــم دی

.....................................

## یو یو څاڅکي دَ باران

یــو یــو څــاڅــکـي لــه اسـمــان دے

داســي ښــكــاري بیــا بــاران دے

رانبــوري خــلــقــو چتــري كــړے

پټهــي ئــي دَ لاس ګــړي كــړے

بیــا پــه مــنــډه هــر انســان دے

داســي ښــكــاري بیــا بــاران دے

دا چــي بــره دا بــریــخــنــا ده

یــخــه یــخــه چــي فــضــا ده

عــلامــت دا پــه جهــان دے

داســي ښــكــاري بیــا بــاران دے

دَ ګــړزا دي آوازونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بند شول بیا تہول بازارونه
هر یو کلی ته روان دے
داسي ښکاري بیا باران دے

ختمې جوړي په هر خوا شوے
مندې تړي په دُنیا شوے
مخامخ هم لوند میدان دے
داسي ښکاري بیا باران دے

هرچا واچوُل بتهان
کم شورش په هر دُکان
بیا خالی لاره ، دُکان دے
داسي ښکاري بیا باران دے

شنه به اوُس شی چمنونه
په خندا به شی ګلونه
بیا ښه وخت ښکلي دوران دے
داسي ښکاري بیا باران دے

ذَ انسان بقا په دي ده
ذَ حیوان بقا په دي ده
غټ نعمت ذَ پاك سبحان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي ښکاري بيا باران دے
ډيري زياتي ئي فائده دي
ذکر کړے ما دوه دري دي
دَ احمد ښکلي بيان دے
داسي ښکاري بيا باران دے

.....................................

## په شيبو شيبو باران

يو خوا بره خړ اسمان دے
په شيبو شيبو باران دے
نهر ډك شو له اُوبو نه
بهر شوے اُوبه لختو نه
دَ اوبو نه ډك ميدان دے
په شيبو شيبو باران دے
بازارونه په وخت بند شو
دُکانونه په وخت بند شو
په تادي هر يو روان دے
په شيبو شيبو باران دے
هوا کاني دي چليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره ونې ړکېږی
يخ موسم بيا دَ جهان دے
په شيبو شيبو باران دے
ګرمی لاړله په شا شوه
بيا بريخنا شوه او پړقا شوه
هم فائده ده ، هم نقصان دے
په شيبو شيبو باران دے
دَ احمد حقه وينا ده
ښه واضحه ښه صفا ده
بيج کله ضلع مردان دے
په شيبو شيبو باران دے

..................................

## پيشو

دا پيشو ده دا پيشو ده
ډيره خوښه دَ ورو ده
بريت په مخ باندي ئي تاؤ وی
دا دوه سيره ، اول پاؤ وی
دا په پيو ده مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره ښکلي ده حسينه

ميلمنه زمونږ د کورده

مسته مسته په هرلورده

دغه سپينه دغه توره

دغه برګه ! ورته ګوره

مياو مياو ئي آوازدے

تل د ښکار ئي خپل اندازدے

منږکان ترينه يريږی

په کورونو کښې پټيږی

څوکيداره څوکيداره

دا خطره ، منږك د پاره

دا په کلی کښې په ښارکښې

دا ليدي شی هرلارکښې

دا پيشو ده دا پيشو ده

خوښه ډيره د ورو ده

...................................

...............

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مچ او بیماري

وینه نهٔ لرې بدن کښې
ګند ددهٔ وی په لمن کښې

جراثیم ددهٔ په خپو وی
جراثیم به ئې خلو وی

په وجود وړوکې مچ دے
دوست دَ هر یو ګنده پرچ دے

ډیرانونو باندې ډیر وی
ځائې صفا دوی نه هیر وی

په ګنده انسان پسې وی
ورسره ددهٔ مزې وی

دې خفه په صفائی وی
ګند نه تل په جدائی وی

چې ګندونه وی مچان وی
بیماري به په جهان وی

نه دولت به دَ صحت وی
نه سکون نه به راحت وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څکه دا ختمول غواړي
څکه دا رُوکول غواړي
صفائي اول اول ده
دَ صحت ضامنه تل ده
زۀ احمد وایم په جار
صفائي ده تل پکار

.....................................

## ماشے او تبه

تاته غوږ کښې چې بنګیږي
تانه هسې چې تاویږي
تنګوی تا په ګرمي کښې
نه وي سخته په یخني کښې
چې وي ګند هلته پیدا وي
څنګ په څنګ دا په هرخوا وي
تازه وینه ئې خوراك دے
چلك ئې سخت دے بنهنا پاك دے
کار دده په رګ ده ناسته
سم ورته دده وي ملاسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستـــن وهــــونــــکـــي دا دے مــــاشـــے
لــــــه هـــــر کــــنــــد پيـــدا دے مــــاشـــے
چك ئـــي ډيـــر زيــــات خـــطـــرنـــاك دے
نـــقـــصـــانــــي دے ډيــــر دردنــــاك دے
درد وجــــــــود تـــــــــــه رو رو راشـــــــي
ورســـــــــره تبـــــــــه پيـــــدا شــــــي
ورســـــــــره وجــــــود کــــــــړميـــــــږي
پــــــــــه عــــــلاج دوا ښــــــــــهٔ کيـــــــږي
بـــچ لــــــه دهٔ نــــــه پــــــه هــــــر درشــــــه
اے احـــــمــــــده ! ښـــــــــهٔ خبـــــر شـــــــه

.....................................

## ميـږي

مـــدام ګـــرځـــي پـــــه قـــطـــار کښــي
قبيـــــلـــــــه ئـــــي پــــوره لار کښــــي
جـــــس ئـــي تيـــزوی ډيـــر بيـــحـــده
وړی وزن زيــــــــــات لـــــــــــه قــــــــده
مــــدام دوی کښـــــي اتـــحــــاد وی
نــــــه جهـــګـــړے ، نــــه فســـاد وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په زمکه په سورو کښې
اُوسی خپلو محلو کښې
د خوړو څیزبه طلبګاروی
همیشه ګوره په کاروی
ښه صفت ئې انتظام دے
ښهٔ ترتیب دَ خاص اوعام دے
څه دی ؟ څه دی ؟ دا میږی دی
نصیحت له دَږُوندی دی
انتظام ئې اعلا ښکلي
ما احمد پوره منلي

........................................

## پراتهٔ

د روتې ډېره مزه ده
چې په اُور، په غورو سرهٔ ده
دا پخېږی زمونږ کور کښې
مخامخ وی راته شکور کښې
دغه څه دی ؟ پراټه دی
مزیداره ښهٔ پخه ده

په هوتهل کښې ملاوېږی
چې دَ چا ورته زړه کېږی
چې دَ چا سره پیسه ده
صحت مند سړی له ښه ده
ورکوی چې غوړ نقصان
نهٔ دي خوری هغه انسان
دَ احمد دا نصیحت دے
ضروری اول صحت دے

.......................................

## لَور

دغه لور دَ زمیندار دے
لاس کښې څیز ښه ډیر دَ کار دے
یو دَ اُوسپنې تېکړه ده
دَ لرګی ورته دسته ده
چاره نه ده دغه ځوانه
ما راوړي له دکانه
ملا ئې ښه پوره هکړه ده
دَ رېبلو وسیله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ قیمت ئي د وجود دے
ډیر عزت ئي د وجود دے
یو د کندو سلسله ده
دا په مینځ سمه اره ده
په محنت د هر لوهار
ملاوېږی به تیار
د سپوږمي په شان کږه ده
د ربیلو ښۀ اله ده
زمیندار ورته محتاجه
کلي ښار ورته محتاجه
ښه خیال ئي استعمال کړه
بیا ئي بره ښه سنهبال کړه
دا احمد دا نصیحت دے
دا بیان تهول حقیقت دے

.......................................

## جهاز

شور شورو شو تیز آواز دے
پاس الوتي بیا جهاز دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویه اوُسپنه په سره
ښه درنه لکه د غره
سَم اَلوتُي بره باز دے
پاس الوتي بیا جهاز دے
هراړخ ته ئي وزر دے
بوج اخستي ئي په سر دے
جوړ پوره په ښهٔ انداز دے
پاس الوتي بیا جهاز دے
په مزه کوزیږی
په مزه پاسیږی
شته حکمت په کښي پټ راز دے
پاس الوتي بیا جهاز دے
دهٔ لیدلي هر وطن دے
ضرورت د خلقو نن دے
ښهٔ ایجاد د ښهٔ کارساز دے
پاس الوتي بیا جهاز دے
سهولت دے هر بشر له
غټ نعمت دے لر او بر له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه مضبوط عمردراز دے
پاس الوتي بيا جهاز دے
عاجزي ئي کيناستل دي
تکبر ئي پاسيدل دي
عجيبه دده آغاز دے
پاس الوتي بيا جهاز دے
پاس هوا کښي دده لاري
په فضا کښي دده لاري
دا په دي مدام ممتاز دے
پاس الوتي بيا جهاز دے
زما خوښ په تيز سفر دے
دا چي بره په نظر دے
پاس احمده ! ډير په ناز دے
پاس الوتي بيا جهاز دے

.......................................

## اُوښ

دنګ اُوچت لکه دَ غر دے
اُوښ يو ښکلي ځناور دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلى لوئي لوئي قدمونه
وى په مَلا دۀ بارونه
په ورو په وزن خر دے
اُوبښ يو ښکلي څناور دے

دَ شګلني حصي جهاز دے
هريو ښکلي ئي انداز دے
كۀ ماده دے او كۀ نر دے
اُوبښ يو ښکلي څناور دے

ښۀ ئي څنګ دے ښکلي ښکلي
خرئي رنګ دے ښکلي ښکلي
تيز ئي هرخوا ته نظر دے
اُوبښ يو ښکلي څناور دے

چي خفه شى نو برپ برپ كړى
چي غصه شى نو برپ برپ كړى
نقصانى دۀ سره شر دے
اُوبښ يو ښکلي څناور دے

ډيرا احمده! صبرناك دے
سخت نرم دۀ خوراك دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوئي نعمت دَ رب اکبر دے
اُوبښ يو ښکلي ځناور دے

.....................................

## هاتهي

تور په شکل ښه قوی دے
غټ هاتهی دے غټ هاتهی دے
نۀ وهلے شی دا تهو پونه
کور ددۀ دے ځنګلونه
ځومره ښکلي قدرتی دے
غټ هاتهی دے غټ هاتهی دے
غټ دَ اوچې ځناور دے
کۀ ماده دے او کۀ نر دے
لوئي خړتهم ئې صفتی دے
غټ هاتهی دے غټ هاتهی دے
دَ خوراك ئې بيل غابښونه
خطرناك ئې بيل غابښونه
هريو غابښ ئې قيمتی دے
غټ هاتهی دے غټ هاتهی دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ الله کریم مخلوق دے
دَ الله عظیم مخلوق دے
غونډ مونډ تهول پوره بیخی دے
غټ هاتهی دے غټ هاتهی دے
درني خپي ئي غټي غټي
ماتوی په وزن کټي
دي خو منه ډیر وزني دے
غټ هاتهی دے غټ هاتهی دے
رانیولي چي انسان دے
اے احمده ! بندیوان دے
قید ته کله څوك راضی دے ؟
غټ هاتهی دے غټ هاتهی دے

..................................

## چاپیرچل (ماحول)

وخت سره ورو ورور بدل دے
دا زمونږ چي چاپیر چل دے
اول پاك ووَ لوګو نه
دَ ګنده اُوبو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تاريخ ددي اول دے

دا زمونږ چي چاپير چل دے

نه ځه ګند وو ، نه ډيران وو

صفا هر کلي مکان وو

اوس ګنده هريو محل دے

دا زمونږ چي چاپير چل دے

پاکي دا لارې کوخي وے

نهٔ ذَ زهرو کارخاني وے

تول نظام بيمار دے شل دے

دا زمونږ چي چاپير چل دے

پټ جهان شو په لوګو کښي

پټ انسان شو په لوګو کښي

سوچ پکار دے ځهٔ ئي حل دے

دا زمونږ چي چاپير چل دے

دا چي هره ورځ سوزيږي

ځنګلونه دي ، ختميږي

وُلے اُور په کښي نن بَل دے

دا زمونږ چي چاپير چل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي مونږ نه حفاظت دا
تل احمده! هر ساعت دا
ژوندون نه دے سَم غوبل دے
دا زمونږ چې چاپېر چل دے

.................................

## دوه اخترونه

دوه اختره دي په کال کښې
تل په حال او استقبال کښې
په وړوکي يو يادېږي
دا له چا نه هېرېږي
په رمضان پسې مدام وي
دَ رمضان چې اختتام وي
بره ګوري ټول اسمان ته
دَ سپوږمۍ مخصوص مکان ته
مياشت چې اُووينې اختر شي
په دُعا هر يو بشر شي
دَ خير ټول اُوکړي سوالونه
برکتونه، رحمتونه

دَ شوال تاریخ اول شی
اسلامی تاریخ بدل شی
دا اختر دَ خوشحالووی
دا دَ لوی او وړو وی
مالداران غریبان
خوشحالی کړی مسلمان
په مالداربیا فطرانه ده
یونامه ئي سرسایه ده
بیا مونځونه دَ اختروی
میدانونه معطّروی
داسې کیږی هراختر کښې
مسلمانه! لراوبر کښې
بل اختر په غټ یادیږی
ورته خلق خوشحالیږی
قربانۍ په کښې هرخوا وی
دا عمل په کښې اعلا وی
طریقه دَ ابراهیمؑ ده
محمد نبی کریمؑ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکبیرات په چغه چغه
عبادات په چغه چغه
مسلمان په دي خوشحاله
ټول جهان په دي خوشحاله
دا په میاشت دَ ذی الحجه کښې
تل راځي دغي حصه کښې
زۀ احمد ورته خوشحاله
زۀ ورځم، راځي ټول ماله

.................................

## واحد، جمع

چي واحد شی مدام یَو وی
پس له دي نه جمع دَوه وی
بیا هر څوموره چي زیاتیږی
جمع نوم ئي نۀ بدلیږی
جمع نوم دَ ډیر څیزونو
شه خبر له مثالونو
اخترونه، خوراکونه
جماتونه هم مونځونه

شاعران، مسلمانان
انسانان یا غریبانان

محلې لاري کوڅې
ګلدستې دا علاقې

کلی کلی تهکی څلی
ښکلی ښکلی، نالیدلی

دا دَ جمع مثالونه
ډك له دي نه کتابونه

دوه یا زیات چې شي له دوو نه
جمع وی چې زیات شي یَو نه

دغه یاد ساته مدام
هیر دي نشي دا کلام

دَا احمد ښکلي وینا ده
ښه واضحه، ښه صفا ده

.......................................

# لوظ

په تول پوره ښهٔ زندګی پکار ده
دَ لوظ وعدې ښهٔ پابندی پکار ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي انسان په هر طرف ښکلي وي
هر خواته دا مسلماني پکار ده

هر يو نيکي جدا مقام لري خپل
څکه انسانه! هر نيکي پکار ده

حضور ﷺ مدام ذ وعدي خيال ساتلي
ذ پاك حضور ﷺ تابعداري پکار ده

اصحابؓ به قدر ذ وعدي کولو
دوی سره دلته کښي دوستي پکار ده

نه اولياء مخالفت ئي کوی
تابعداري ذ هرولي پکار ده

چي وعده ماته کړے خفګان لازم دے
په پوره کولو خوشحالي پکار ده

وعده ماتول ذ منافق نخه ده
سوچه سوچه دا بندګي پکار ده

احمد پيغام ذ محبت راوړے
طريقه هر يو اسلامي پکار ده

..................................

...................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ سبزۍ دُکان

دا سبزي چي رنګ په رنګ دی
کریلې دی ځه بادرنګ دی
باتینګړ شته هم کدوان شته
بند کولاؤ تازه ګوپیان شته
آلوګان دی هم بینډی دی
دا توري دی دا مولي دی
دغه پیاز دا تهماتر دی
ځه تیپر دی ، ځه متهر دی
هم پمنکی مرچکی شته
شته ادرك هره سبزي شته
دَ سبزي دا غټ دکان دے
ناست په کښي شریف انسان دے
په طبیعت نرم مزاجه
هر ساعت نرم مزاجه
ځکه رش جوړ دے قطار دے
داسي بل څوك دکاندار دے؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرخوی تازه سبزیاني
په قیمت ډیري ارزاني
په تازه خیز کښي صحت دے
دا احمد دا نصیحت دے

..................................

## رنګونه

زیړ پسي سُور رنګ اُودی دے
هر یو رنګ ښه بُنیادی دے
په نظر ښکلي رنګ شین شته
عام هر خوا ته تور او سپین شته
نارنجی شته هم پیازی شته
زغفرانی شته سلیټی شته
دَ سرو زور رنګ اعلا دے
دَ سپین زرو رنګ جدا دے
رنګ کښي حُسن قدرتی وی
خړ بخن وی نسواری وی
نور رنګونه تري جوړیږی
چي دوی کله یو ځائي کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارنګونه دَ ښُکلا دی
دارنګونه دَ دُنیا دی
په دي ښکلا دا جهان دے
پاس احمده! شین آسمان دے

..................................

## سائیکل

زمونږ کور کښې یو سائیکل دے
پردي نه دے زمونږ خپل دے
بس یو څو هغه ډنډې دی
دوه ربړمان دی دوه چمتې دی
دوه ټیرونه ، دوه ټیوپونه
په کښې دوه مضبوط بریکونه
یو ئې زین دے یو ټلې ده
یو دَ ناستې ئې ګدي ده
یو دَ ناستې ئې جنګله ده
ښه پوره دغه نقشه ده
دوه پیډلې یو ئې چین دے
په سړك ئې جدا لین دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې روان وی نو مزه کړی
کار زمونږ په هر حصه کړی

چې پنکچر نه وی روان وی
ژوند په دي سره اسان وی

نه محتاج دے د پټرولو
نه ډیزل ته د اچولو

تول بچت بچت دے
دا رحمت دے لوني نعمت دے

ذریعه د تللو راتللو ده
وسیله د تللو راتللو ده

د غریب ښه مددګار دے
دوست احمده! وفادار دے

..................................

## ترك

زما دوست اخستي ترك دے
داسي مه وايه نازك دے

ډير ددۀ په تن سامان وی
ورته سم دي پهلوان وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شګه کرش په کښې چلیږی

په کار کله ستړي کیږی

ښاوره خښته راځی دي کښې

غورځوی راته کوځي کښې

مدام ډك وی له میوونه

له سبزونه له کیلونه

په ده باروی کریتونه

رنګ په رنګ ښه ډیر خیزونه

په ډیر زیلو دي چلیږی

چې روان شی نه اُودریږی

خپل منزل ته رسوی ځان

خپل محل ته رسوی ځان

تیزه تیزه ځي هرن ده

خبرونکي دَ هرتن ده

په مزه مزه سفر کړی

سم منزل لکه خر کړی

دده کار دغه خدمت دے

دا احمده ! حقیقت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رکشه

دا رکشه ده چې تېر تېر کړي
محله پوره خبر کړي

نه موټر دے، نه ټرېکټر دے
خو دا ځیز ډېر دَ هُنر دے

دریو پایو باندې روانه
ډریوري ئې ده اسانه

نه موټر سره په څنګ ځي
نه ټرېکټر سره په څنګ ځي

لرې لرې ځي له بس نه
نه وي لرې له اُولس نه

دَ کوستېر نه بېچ کوي ځان
دَ ډمپر نه بېچ کوي ځان

دا په روډ په سیلۍ روانه
فکرمنده پرېشانه

ورسره دَ ژوند نشه شته
چې دَ چا دَ سره رکشه شته

دا وړه ښکلې سورلۍ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ غریب دا غریبی ده

مناسب ئي کرایه وی

چي دَ چا سره رکشه وی

پکاریږی چي ځے ښارته

ځه سودا له بازارته

دا په رش کښي نه تنګیږی

مخکښي ځی کله اُودریږی

خپل منزل ته رسوی ځان

خپل محل ته رسوی ځان

دارکشه احمده! ښکلي

ډیر په دي کښي یمه تلي

....................

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وعونهٖ

وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خیر خلقهٖ

محمد وآله واصحابهٖ اجمعین

آمین یا ربّ العالمین.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**